د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت

امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د استادانو چارو آمریت

ګڼه: ۵۱۸ - ۵۲۴
نېټه: ۱۴۴۴/ ۷ / ۲۲

عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ بلاغیه ☐

موضوع: د انصاف او عدالت پالیسي تائیدي

**د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې محترم ریاست ته !**

اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

محترما! د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د انصاف او عدالت پالیسي د مؤسسې د علمي شورى په (۲) پروتوکول ۱۴۴۴/۶/۲۵ هـ ق نیټه کې د کتلو وروسته تائید شوه چې داده ددې لیک سره مل يې په (۸) اتو ورقو کې ستاسو محترم معاونیت / ریاست / آمریت ته د ورستیو اجرأتو په موخه درلیږو.

په درنښت

پوهنمل حمد الله حمیم

**د علمي او محصلانو چارو مرستیال**

**کاپي : د مالي او اداري چارو معاونیت ته!**
**کاپـــي: د ښووني او روزنې پوهنځی محترم ریاست ته!**
**کاپـــي: د اقتصاد پوهنځی محترم ریاست ته!**
**کاپـــي: د کرهنې پوهنځی محترم ریاست ته!**
**کاپـــي: د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو آمریت ته!**
**کاپـــي: د څیړنې او تحقیق محترم آمریت ته!**

آدرس: دولایت مقام پخوانی ودانی ،دمخابراتو او معلوماتی تکنالوژی ریاست مخ ته ،قلات ښار ،افغانستان
ایمیل: Fzazalmohammadfazli12@gmail.com
اړیکی : ۰۷۰۷۴۳۱۹۷۹

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړوزده کړو وزارت

## میرویس خان نیکه زابل د لوړوزده کړو مؤسسه

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د تضمین کیفیت او اعتبارورکولو آمریت

## Vision

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي د غوره تدریس، څېړنو او با کیفیته خدمتونو په وړاندي کولو سره د هیواد په کچه یو معتبر علمي مرکز و اوسي او ټولني ته د خدمت جوګه شي.

## د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د انصاف او عدالت پالیسي

**Justice and Fairness Policy of Mirwais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education.**

## Mission

د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه مناسبو تدریسي، څېړنېزو او باکیفیته خدمتونو ته د لاس رسي زمینه برابروي چې، پر مټ یې د نني عصر د غوښتنو مطابق اسلامي او ملي ارزښتونو ته ژمن کادرونه د هیواد خدمت او پرمختګ لپاره وروزي.

کال: ۱۴۰۱ هـ ش

# فهرست


گڼه عنوان ............ مخونه

1. سریزه ............ 1

2. سرچینه: ............ 1

3. موخې: ............ 2

4. د انصاف او عدالت په برخه کې د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې کړنې ............ 2

5. الف:د قانون د تطبیق او عملي کولو په برخه کې ............ 2

6. ب: د ادارې او خدماتې کارمندانو او استادانو د جذب اړوند پالیسې ............ 2

7. ج: د محصلانو،استادانو او کارمندانو تر منځ تناسب په برخه کې ............ 3

8. د: د محصلانو د مونوگرافونو د لیکنې او لارښوونې په برخه کې ............ 3

9. ه :د استادانو او کارمندانو د ظرفیت لوړونې په برخه کې: ............ 3

10. و:په درسي ساعتونو کې د انصاف او عدالت پالیسي ............ 3

11. ر: د لنډ مهاله بورسونو د توزیع په برخه کي د انصاف او عدالت پالیسي ............ 4

12. ز:- د نتایجو د شفافیت په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي: ............ 4

13. ح: د علمي خپلواکی د تأمین لپاره د انصاف او عدالت پالیسي: ............ 4

14. ط: د ټولنیزو اخلاقو د رعایت لپاره د انصاف او عدالت پالیسي ............ 5

15. ظ: د شکایتونو د ارزونې لپاره د انصاف او عدالت پالیسي ............ 5

16. ص: د اضافه کاري لپاره د انصاف او عدالت پالیسي ............ 5

17. ی: د استادانو، کارمندانو او محصلینو لپاره په حاضري کې د انصاف او عدالت پالیسي ............ 5

18. ک : د تدارکاتو په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي ............ 6

19. ل : د مکافاتو او مجازاتو په بر خه کې د انصاف او عدالت پالیسي ............ 6

20. م: د استادانو د تحقیقي مزد د ورکړې په برخه کې د عدالت او انصاف پالیسي ............ 6

# سریزه

په دي ورستيو کلونو کې په ګران هیواد افغانستان کې په زیاتو سکتورونو کې چټک پرمختګ رامنځ ته شو، یو له دوی څخه په هیواد کې د لوړو زده کړو په ډګر کې بېساری پرمختګ وو چې په لنډ وخت کې د هیواد دننه او بهر يې بې شمیره متخصصین او مسلکي کادرونه تربیه او د خدمت په توګه افغاني ټولني ته وړاندې شول،همدا د عالي تحصیلاتو چټک بدلون او وده وه چې د هیواد په لر او بر کې زیات دولتي او نادولتي د لوړو زده کړو نهادونه تشکیل او ایجاد شو، یو له دغو نهادونو څخه د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه وه چې په ۱۳۹۶ هـ ش کال کې د زابل په تاریخي او لرغوني ولایت کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا تاسیس شوه،یاده مؤسسه په لمړیو کې یوازي د یوې پوهنځۍ ( ښوونه او روزنه ) چې په تشکیل کې د څلور څانګو ( بیولوژي،کیمیا،ریاضي.فزیک ) په درلودلو سره يې په فعالیت پیل وکړ،دمګړی میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه په څلور پوهنځیو کې د لیسانس په کچه د لس ( ۱۰ ) علمي برنامو او اکاډمیکو پروګرامونو کې د هیواد ځوان نسل روزي،چې تر اوسه مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځۍ څخه په دوو دورو کې ( ۱۹۷ ) تنه مسلکي کادرونه ټولنی ته د خدمت په توګه وراندي کړي چې ( ۱۱ ) تنه يې ښځینه فارغین تشکیلوي.

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د چارو د بهبود،غوره والي او روڼتیا لپاره زیات شمیر طرزالعملونه،میکانیزمونه،طرحې او پالیسانې ترتیب او اماده کړي دي ، تر څو يې په وسیله د محصلانو ، استادانو، اداري کارمندانو او په مجموع کې د ټول نهاد د کارکوونکو وظایف معلوم،حقوق يې تضمین، تر لاسه او لا ښه پیاوړي شي،په دي سره به د نهاد په ټولو سطحو کې اطمنان تر لاسه شي، چې پوره او بشپړ عدالت تامین او په انصاف سره ټولې پریکړي تر سره شي او ټول ښکیل کسان دا ډاډ تر لاسه کړې چې ، په ټولو چارو کې لکه استخدام،تشویق، د بورسونو ویش،د علمي ترفیعاتو طی مراحل،د ارزونو پر بنسټ د مکافاتو او مجازاتو تطبیق ... او نورو ټولو برخو کې د انصاف او عدالت معیارونه او اصول لمړیتوب لري چې ، ددي تګلاري د عملي کولو لپاره میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د خپلو چارو د ښه والي ،لرلید ته د رسیدو او خپل رسالت د تر سره کولو لپاره د انصاف او عدالت پالیسي د لاندي چوکاټ او محتوا پر بنسټ جوړه کړي او د عملي کولو لپاره يې پوره هلي ځلي کوي.

سرچینه:

د انصاف او عدالت پالیسي د تضمین کیفیب د چارچوی د ۸،۳۹ معیار په اساس ترتیب او تهیه شوې ده.

موخې:

1. د استادانو د تقرر، د درسونو او ورځنيو چارو عادلانه ويش، د کنفرانسونو ارزونه، مقالې، تحقيقي او تأليفي اثار، ترفيع، بورسونو، د کمپيوټر او شورا ګانو سمون، سيمينارونو او ورکشاپونو ته معرفي او اړوند نورو چارو کې د انصاف او عدالت اصل په پام کې نيول.
2. د اداري او خدماتي کارمندانو د تقرر، جذب، امتياز او ارتقاء په برخه کې د انصاف او عدالت اصل مراعات کول.
3. د محصلانو په ارزونه او نمرو ورکولو کې د انصاف او عدالت اصل تطبيقول.
4. د مؤسسې په اداري او خدماتي کارمندانو، استادانو او محصلانو د لوړو زده کړو وزارت او مؤسسې د پالیسیو، مقررو او لوايحو د تطبيق په برخه کې د انصاف او عدالت اصل مراعاتول.
5. د بروشرونو، بنرونو او ويب سايټ له لارې د قوانينو او مقررو په اړه عامه پوهاوی رامنځته کول.

## د انصاف او عدالت په برخه کې د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې کړنې

### الف:د قانون د تطبيق او عملي کولو په برخه کې

لکه څنګه چې قانون او د هغه یوشان تطبیق د هر سازمان او اداري د تنظيم ، پرمختګ او چارو د سمون لپاره زيات مهم دي ، په همدي خاطر ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د ښه نظم ،عدالت او انصاف په موخه تل په دي هڅه کې ده، تر څو د قانون د پلي کولو غوره لارې پيدا او د نهاد په ټولو سطحو کې يې يوشان تطبيق کړي.

### ب: د اداري او خدماتي کارمندانو او استادانو د جذب اړوند پالیسي

1. د علمي کادر د اړتيا وړ بستونه د مؤسسې په ويب سايټ او فيسبوک پاڼو کې نشر کول او د آزادي سيالۍ له لارې د علمي کادر د غړو جذبول.
2. د اداري کارمندانو بستونه میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې په فيسبوک پاڼه نشرول او د کارمندانو تقرر د آزادي سيالۍ له لارې جذبول.
3. خدماتي بستونه د آزادي سيالۍ لپاره اعلان ته سپارل کېږي او يو کس د فزيکي جوړښت او مهارتونو پر بنسټ ټاکل.
4. د علمي بستونو توزيع د څانګو د اړتيا د تشخيص له مخې د محصلانو د تناسب ۳۰/۱ د مضامينو شمېر ، د استاد له مکلفيتونو سره د درسي ساعتونو مطابقت او د مؤسسې په تطبيقي پلانونو کې د ځای ورکولو له مخې صورت نيول.
5. په پوهنځيو کې د اداري بستونو د ويش موضوع د ادارو د اړتيا له سنجش، د کار حجم د کارمند او محصل د تناسب ۷۰/۱ د اړيکې له مخې په اداري جلسو او په تطبيقي پلان کې ځای پر ځای کول.

په دي برخه کې د مؤسسې رئيس، علمې او محصلانو چارو مرستيال، اداري مرستيال او د پوهنځيو رئيسان جدي پاملرنې ته اړ دي.

### ج: د محصلانو، استادانو او کارمندانو تر منځ تناسب په برخه کې

ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د محصلانو، استادانو او کارمندانو ترمنځ تناسب د لوړو زده کړو وزارت د تضمين کيفيت د معيارونو په اساس ټاکي ،همدي اصولو ته په کتو د جذب او استخدام چاري تر سره کوي.

### د: د محصلانو د مونوګرافونو د ليکنې او لارښوونې په برخه کې

د ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه کې محصلان خپل د تحصيلي دوري پايليکونه او مونوګرافونه د رهنما استاد تر لارښوونې لاندې تدوين ،ترتيب او بيا دفاع کوي، لارښود استاد د يوه منظم ميکانيزم له لارې خپلو محصلينو ته د عدالت اصل ته په کتو د مونوګرافونو د ليکلو او تدوين کولو رهنمايې کوي،هغه لارښود استاد چې محصل ته وخت نه ورکوي او د محصل سره لېږ او سطحي همکاري کوي، محصل کولای شي په وړاندې يې د پوهنځي رياست ته خپل شکايت وکړي،که پوهنځی د محصل شکايت ته رسيدګې ونه شي کړای،محصل کولای شې خپل شکايت د مؤسسې/پوهنتون تر علمي معاونيت پوري ورسوي،پوهنځی او علمي معاونيت به د محصل شکايت ته په عادلانه او منصفانه توګه رسيدګې کوي، ترڅو چاري د انصاف په رڼا کې تر سره شي.

### ه :د استادانو او کارمندانو د ظرفيت لوړونې په برخه کې:

ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه تل هڅه کوي د خپلو استادانو/کارمندانو د ادارې ظرفيت لوړونې لپاره مختلفي برنامي ، ټرينينګونه ، ورکشاپونه او هم د مسلکې ظرفيت لوړونې لپاره د زده کړو مختليف پروګرامونه لکه ليسانس،ماستري ،دوکتورا... په لار واچوي. مؤسسه به ټول د ظرفيت لوړوني برنامي داسي تنظيموي ترڅو له يوه طرفه د نهاد په ټولو برخو کې د يوشان نوښتونه،پرمختګونه او لاس ته راوړنو شاهدان و اوسو او له بل طرفه به د عدل او انصاف اصول او ارزښتونه عملي شوي وي، تر څو په مؤسسه کې پرمختګ او ارتقا رامنځ ته او ټولي اړتياوې پوره شي .

### و:په درسي ساعتونو کې د انصاف او عدالت پالېسي

په څانګو کې د ورځنيو درسونو ويش د استادانو د علمي مکلفيت له مخې او د لوړو زده کړو وزارت د لوايحو مطابق پر مخ وړل او هغوی ته د تخصص له مخې د مضامينو ويش ترسره کول. په دې برخه کې د پوهنځی علمې شورا د عدالت له تأمين څخه نظارت کوي او متضرر استادان کولای شې چې خپل شکايت د پوهنځی له رئيس، علمي مرستيال ، د مؤسسې له رئيس سره شريک کړي او يا هم په رسمي ډول د شکاياتو په صندوق کې خپل ليکلی شکايت درج کړي.

ر: د لنډ مهاله بورسونو د توزیع په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د لنډ مهاله او اوږد مهاله بورسونو د توزیع په برخه کې استادانو او اداري کارمندانو ته ونډه ورکوي تر څو د استادانو او اداري کارمندانو ظرفیتونه لوړ کړي.

ز: د نتایجو د شفافیت په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي:

1. د سمستر منځنۍ آزموینه: د پوهنځیو یا هم د پوهنتون په کچه چې د آزموینې کمېټې شتون لري د نومړو کمېټو لخوا د منځنۍ سمستر آزموینه د لوړو زده کړو وزارت د طرزالعمل او هدایت مطابق تنظیم او پرېکړه کوي.
2. د سمستر وروستۍ ازموینې لپاره د پوهنتون او یاهم د پوهنځیو د آزموینو کمېټې د لوړو زده کړو وزارت د طرز العمل او هدایت مطابق پرېکړه کوي. یادې کمېټې د هر امتحان له صحنې څخه لیدنه کوي او خپل ورځني راپورونه د کمېټې په مربوطه کتابونو کې رسوي او د ازموینو په پای کې د هرې پوهنځۍ د آزموینو کمیته مکلفه ده چې خپل توحیدي راپور د پوهنتون د آزموینو کمېټې ته وسپاري. د آزموینو کمېټه د پوښتنو د جوړولو له ډول، د ازموینې د صحنې داخلي نظم، د ازموینې وخت، د ازموینې پر وخت پیل، په ازموینه کې د ممتحن او ممیز شتون، د محصلینو رضایت، د ټولو محصلینو شمېر، په امتحان کې د شامل محصلینو شمېر او د امتحان مناسبې فضا څخه ډاډ تر لاسه کوي.
3. د آزموینو نتایج د پوهنځیو د تدریسي مدیریت له لوري د آزموینو د رسمي ختمېدو وروسته اعلانېږي او متعرض محصلین کولای شي، چې د شقې د اعلان څخه تر دریو ورځو پورې د عدم قناعت شکایت ثبت کړي یاد شکایت د دریو استادانو لخوا د شکایت کوونکې محصل په شتون کې څېړل کېږي.
4. د لوړو زده کړو وزارت د طرزالعمل مطابق میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې ټول استادان مکلف دي چې د آزموینو نمرې تر دریو ورځو پورې اعلان کړي.

ح: د علمي خپلواکۍ د تأمین لپاره د انصاف او عدالت پالیسي:

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د تضمین کیفیت آمریت د استادانو او محصلانو د علمي خپلواکۍ د ملاتړ په موخه د علمي خپلواکي پالیسي تر کار لاندې ده او د بشپړېدو وروسته به یاده پالیسي د مؤسسې د علمي شورى له لوري تائید او د سیمینارونو په ډول به د محصلینو سره شریکه ، په ویب سایټ کې به نشر او د نشر شواهد به یې دتضمین کیفیت آمریت سره شریک شي.

ط: د ټولنيزو اخلاقو د رعايت لپاره د انصاف او عدالت پاليسي

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولنیزو اخلاقو نه رعايت کولو د مخنیوي په موخه د رهبرۍ، اداري کارمندانو، استادانو او محصلانو لپاره د اخلاقو ځانګړې پالیسي ترتیب کړې ده او د مؤسسې د علمي شورى له تأیید وروسته به یې له پوهنځیو سره شریکه کړي، په چاپي ډول به یې د مؤسسې په بېلابېلو برخو کې نصب کړي او همدارنګه د مؤسسې د ویب سایټ له لوري به په نشر ورسېږي.

ظ: د شکایتونو د ارزونې لپاره د انصاف او عدالت پالېسي

دمیرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د نظم، دسپلین او شکایاتو ته د رسېدنې کمېټې له لوري د شکایاتو د اورېدلو طرزالعمل ترتیب شوي دي، چې یاد طرزالعمل د مؤسسې په علمي شورى کې تائید او له هغې وروسته به پوهنځیو ته ولېږل شي. یاد طرزالعمل به پر بنرونو، ویب سایټ او د برېښنایي شبکو له لارې نشر شي. چې پکې د محصلینو، اداري کارکوونکو او استادانو لپاره د شکایت کولو ځانګړي اصول بیان شوي دي او همدارنګه د شکایت فورمه شتون لري، تر څو په یاده پروسه کې په بشپړ ډول شفافیت رامنځته شي.

ص: د اضافه کاري لپاره د انصاف او عدالت پالېسي

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د اداري کارمندانو، خدماتي کارمندانو، د شب باشانو، فني او تخنیکي کارکوونکو اضافه کاري د هغوی د ښه خدمت په موخه دمستقیم آمر د تأیید وروسته هغوی ته ورکول کېږي.

ی: د استادانو، کارمندانو او محصلینو لپاره په حاضري کې د انصاف او عدالت پالېسي

1. د لوړو زده کړو وزارت د قانون پربنسټ د استادانو حاضرۍ د درسي تقسیم اوقات او په کمېټو کې د ګډون له مخې حسابېږي او هر استاد همدا برنامه په خپل انفرادي پلان کې ځای پر ځای کوي.
2. د کار قانون له مخې ټول اداري او خدماتي کارمندان د شنبې تر پنج شنبې هره ورځ د کار او ټولنیزو چارو وزارت د اصولو او پالیسي مطابق باید په خپله وظیفه کې حاضر وي. هغه کارمندان چې د خپل آمر له اجازې پرته دندې ته رسیدګي ونه کړي غیر حاضر حسابېږي.
3. محصلین د خپل درسي وخت له مخې مکلف دي درسونو ته حاضر شي. هر استاد ځانته حاضري لري او کوم محصلین چې شتون ونه لري، غیرحاضر حسابېږي. په ازمویته کې د محصل ګډون د کرېډېټ لایحې مطابق محصلین د ۷۵ سلنه حاضرۍ پربنسټ باید حاضر وي او د ۲۵ سلنه څخه زیاته غیرحاضري په صورت کې محصل محروم شمېرل کېږي.

ک : د تدارکاتو په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې تدارکات د همدې مؤسسې د مالي او اداري معاونیت، د تهیه او تدارکاتو د مدیریت په مرسته د ځانګړې طرزالعمل له لارې تنظیمیږي. د تدارکاتو مدیریت د هر اداري واحد لپاره ځانګړي فورمې لري او د همغې فورمو له مخې یې اړتیاوې بشپړوي.

ل : د مکافاتو او مجازاتو په بر خه کې د انصاف او عدالت پالیسي

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د مکافاتو او مجازاتو اصل ته پابنده مؤسسه ده او د خپلو مالي امکاناتو له مخې چې په واک کې یې لري د استادانو او کارکوونکو د ملاتړ لپاره یې په کار اچوي.

م: د استادانو د تحقیقي مزد د ورکړې په برخه کې د عدالت او انصاف پالیسي

د میرویس خان نیکه زابل لوړوزده کړو مؤسسه د استادانو د څېړنو، د تألیف، د علمي فعالیتونو د حق الزحمي په برخه کې پلان لري تر څو د هغوی مزد ورکړي او همدارنګه د استادانو د څېړنو، مقالو، ژباړو، علمي اثارو د نشر او پخش په موخه علمي امکانات چمتو کړي

د انصاف او عدالت پالیسي د میرویس خان نیکه زابل دلوړوزده کړو مؤسسي د علمي شورا له لوري په

( ۳ ) ګڼه او (۱۴۴۴/۶/۲۵) نېټه پروتوکول کې ثبت او تائید شوه.

په درنښت

روح الله مشال

میرویس خان نیکه زابل دلوړو زده کړو مؤسسې رئیس